څوک چې له غره ځان وغورځوي او ځان ووژني، نو هغه به د دوزخ په اور کې همداسې غورځول کېږی، تل به هلته وي، ابدي عذاب کې به وي

له ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چې له غره ځان وغورځوي او ځان ووژني، نو هغه به د دوزخ په اور کې همداسې غورځول کېږی، تل به هلته وي، ابدي عذاب کې به وي، څوک چې زهر وخوري او ځان ووژني، نو زهر به يې د دوزخ په اور کې په لاس کې وي، هماغه زهر به بيا بيا خوري، تل به هلته وي او ابدي عذاب کې به وي، او چا چې ځان په يو اوسپنيز توکي وواژه، نو همدا وسله به ئې په لاس کې وي، خپل نس به پرې بيا بيا سوری کوي، تل به هلته په ابدي عذاب کې وي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

پيغمبر صلى الله عليه وسلم په دنيا کې په قصدي توګه د ځان وژنې په اړه خبرداری ورکړی چې چا قصداً ځان وژنه وکړه، نو د قيامت په ورځ به په همغې طريقه په دوزخ کې عذابېږي چې ځان يې وژلی دی، دا د هغه د عمل سره برابره سزا ده، نو چا چې له غره څخه په ځان غورځولو سره ځان وژنه وکړه، نو په دوزخ کې به د دوزخ له غرونو څخه لاندې راغورځول کېږي، تل به هلته وي، او چا چې زهر وڅښل او ځان وژنه يې وکړه، نو په دوزخ کې به يې زهر په لاس کې وي بيا بيا به يې څښي او د تل لپاره به هلته پکې وي، او چا چې په يوه اوسپنه ځان وواژه، نو اوسپنه به يې په لاس کې وي او بيا بيا به پرې خپله ګېډه سور کوي، او د تل لپاره به په جهنم کې وي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66204